د ماشومانو اولسي لوبې



خواجه غلام جیلانی شبل

عبدالغفار گردیزی

د ماشومانو اولسي لوبې

لیکوالان: خواجه غلام جیلانی شبل

عبدالغفار گردیزی

ژباړن: سید محی الدین هاشمي

PROPERTY OF ARIC Established 1989

کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : د ماشومانو ولسنی لوبې

لیکوال : خواجه غلام جیلانی شبل

عبدالغفار گردېزی

ژباړونکی : سید محی الدین هاشمی

د پښتې طرح

او متن رسمونه : ایمل

خپرونکی : د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره

پرله پسې نومره : ٤٢

لومړی چاپ : ۱۳۷۹هـ.ش کال، د خپرونکی له خوا، پیښور

چاپ شمېر ۱۰۰۰ ټوکه

د مخونو شمېر : ۱۲٤

کچه : ۱۳,٥ × ۲۱ سانتی متره

د خپرونکې پته : دویم کور، رحمان بابا روډ،

پوست بکس: ۱۰۸٤، یونیورستی ټاون - پیښور

ټیلفون: ٤٥٣١٦-٤٤٣٩٢-٤٥٣٤٧

فکس: ۰۹۱-۸٤۰٤۷۱

الکترونیکي پوست: aric@brain.net.pk

چاپ : د صبور د اسلامي خپرونو مرکز، گل حاجی پلازه ۱۲۲

ټیلیفون ۸٤۳۳۸۲

دویش او پلورنې ځای: د اکبر دفتر (د افغانانو له پاره د مرستو د انسجام اداره)

د یونیسف د اداری په مالی مرسته

د کتاب له مطالبو څخه استفاده د مأخذ په ښودلو سره جایزده.

بسم الله الرحمن الرحيم

د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز (اریک) له دریو کالو راهیسې د افغانستان ولایتونو ته دگرځنده کتابتونونو پروګرام تر لاس لاندې نیولی دی. ګرځنده کتابتونونه چې د فلزي صندوقونو په بڼه جوړ شوي دي، په یو خاص ځای کې ایښودل کیږي. د سیمې خلک ورڅخه امانت کتابونه وړي، لولي یې او خپلو شاوخوا خلکو ته یې هم اوروي. کله چې په سیمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سیمې ته لیږدول کیږي او یا پرې یوشمیر نور نوي کتابونه ورزیات او هماغه ځای کې پاتې کیږي.

موږ هڅه کړې ده چې د ګرځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه راټول کړو چې دلیکنې ژبه یې ساده او د خلکو د اړتیاوړ مطالب ولري، تر څو چې په ورځني ژوند کې له هغوی سره په دیني، ټولنیزو، اقتصادي، ښوونیزو، روزنیزو، روغتیایي، تاریخي، فني، مسلکي او... مسایلو کې مرسته وکړي.

موږ د ګرځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم ترسره کوو چې خلک څه ډول آثارو او موادو ته اړتیا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو د مطالعې هیله من دي. موږ لومړی هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له بیلا بیلو منابعو (کتاب پلورنځیو او خپرونیزو مرکزونو) څخه برابر او راونیسو. په نوموړو مراجعو کې د مطالبو او موادو د نشتوالي په صورت کې اریک هڅه کوي چې داړتیاوړ آثارو په تألیف، ترجمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

لومړی

د دغه موخې او هدف د تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور له دوو کالو راهیسې د UNOCHA دفتر ته وړاندیز وشو چې لوستونکو ته داړتیاوړ کتابونو د چاپ او خپراوي له پاره له موږ سره مالي مرسته وکړي. دهغه دفتر د مالي مرستونه د منـــنې په څرگندولو سره له هغه وخت څخه تراوسه پورې د اریک د گرځنده کتابـــتونونو اداري وکـــړای شول چـــې په دې برخه کې گټور فعالیتونه ترسره کړي.

د ښه او سیستماتیک کار له پاره د اریک د اداري استازیو او یوشمیر څیړونکو او لیکوالو یوگډهیأت وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده، کولو او چاپ کولو پړاوونه ، چې‌دتکړه او مسلکي لیکوالو له خوا تألیف کیږي، په گډه مخ پر مخ بوځي.

دغه هیأت د افغانانو د صمیمي همکارې میرمن نانسي هچ دوپري، سید محی الدین هاشمي، خواجه غلام جیلاني شبل، محمد شکیب افضلي، محمدسلیمان او محمد رفیع څخه تشکیل شوی دی.

موږ له خپلو ټولو درنولو ستونکو څخه چې د هیواد په بیلا بیلو ښارونو او کلیوالو سیمو کې ژموږ له کتابتونونو څخه گټه اخلي، هیله لرو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولیږي او د هیواد له لیکوالو او پوهانو څخه غواړو چې چه له موږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لاښه او گټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

د اریک د گرځنده کتابتونونو اداره

دویم

فهرست

عنوان	مخ
سریزه	۱
میران او جوړې	٤
دلوبې د پیل کیدو له پاره پچه	۸
پټ پټونی	۱٤
اس ،فلس	۱۸
ګاټې یا پینځکانی	۲۲
د اس ګوټې ځغلول	۳۰
خط خط کول یا «خطکان»	۳٤
کله کاچ یا «مهره ګکان»	٤۰
رسۍ لوبه	٤٤
رمضاني	٤۸
پنډوس	٥٤
ډۍ	٦۰
بډۍ یا ګوډۍ الوځول	٦۸
لنګرا چول او تارجنګي	۷٤
چیتک	۷۸
شیطان کور	۸٤
واوره جنګي	۹۰
تار تار تیاره	۹٤
د ځنګله بلا	۹۸
د میچنغوزې او لیندی لوبې	۱۰٤
ګاډله ځغلول	۱۰۸
غوزلوبه	۱۱۲

لومړۍ خبرې

د اکبر د نشراتي او اطلاعاتي منابعو مرکز (اریک) د ګرځنده کتابتونونو ادارې د خپلو خپرونو په لړ کې ګټور او ارزښتناک کتابونه چاپ او د خپلو هیواد والو په واک کې ورکړي دي چې هر یوه یې په خپل ځای تر یوې اندازې تشه ډکه او نیمګړتیايې پوره کړې ده.

د ماشومانو اولسي لوبې چې د ټولنې د فولکلوریکو ادبیاتو یوه برخه جوړوي، ډیر مینه وال لري. د کتاب او مطالعې د مینه والو پرله پسې غوښتنو موږ دې ته وهڅولو چې د ماشومانو داولسي لوبو راټولول اولیکل تر کار لاندې ونیسو، نو یو شمیر لوبې مود په زړه پورې عکسونو سره یو ځای په دې مجموعه کې را ټولې کړې.

په عمومي توګه ددې لړۍ کتابونه د UNOCHA د محترمې ادارې په مالي مرسته چاپیږي، چې دا اثر هم له هغې ډلې څخه دي، خو په ځانګړې توګه د یونسیف (UNICEF) محترمې ادارې د ماشومانو په هکله د خپل کار داړوندې له امله له دې کتاب سره خاصه مینه وښوده او پخپلې ځانګړې مرستې یې ددې کتاب د چاپ او د چاپ شمیر په زیاتولو کې له موږ سره مرسته وکړه.

نو لازمه ګڼو چې له موقع نه په استفادې سره په دغه برخه کې د (UNOCHA) له محترمې ادارې د همیشینو همکاریو او د یونسیف (UNICEF) له محترمې ادارې څخه د ماشومانو دا ولسي لوبې کتاب په چاپ کې د مرستې له امله مننه وکړو.

په درنښت

محمد رفیع

د اریک د ګرځنده کتابتونو د پروګرام مسؤل

بسم الله الرحمن الرحیم

PROPERTY OF ACKU 8770

سریزه

ماشومان د انساني ټولنې له پاره زېرمه ایز ځواک ګڼل کیږي، نو ځکه ورته پاملرنه ډېره ضروري ده. د ماشوم ژوند بې له شک او تردید څخه د چاپیریال دعواملو اغیزې مني او د کورنۍ هیڅ ډول ځانګړې روزنه او پالنه د ټولنیزې روزنې ځای نه شي نیولی. ټولنه او چاپیریال پخپل ځان کې د ماشومانو له پاره ځانګړی ځای لري. هغوی په هغه ځای کې له خپلو ټولو خوښیو او اندېښنو سره ځانته بیله نړۍ لري. د ماشومانو په نړۍ کې ماشومانه لوبې جدي کارونه ګڼل کیږي چې باید ماشوم هغه زده کړي. د هغو د عملي سرته رسولو مهارت زده او بریالیتوب تر لاسه کړي.

د خپلو ځانګړو لوبو او ساعت تیریو په لړ کې د ماشومانه مصروفیتونو لمنه داسې پراخه ده چې هغوی یوه شیبه هم د چُرت وهلو او غم خوړلو له پاره وخت نه مومي. د ماشومانو

لوبې محضې وخت تیرول نه دي. دغه لوبې هغوی د سباورځې دمسؤلیت داخیستلو له پاره چمتو کوي، دهغوی پټ استعدادونه څرگندوي او هغوی هڅاند ،دقیق، ځیرک، کلک، کوښښي، کارکوونکي، جدي، هدف لرونکي، وخت پیژندونکي، اجتماعي، شریف، حلیم او زغمونکي، امانتدار، ژمن (متعهد)، او مسؤل روزي.

رښتیا چې موږ لویان هم دخپل ژوند دخاطراتو په پس منظر او بهیر کې دماشومانه لوبو منظرې او خاطرې لرو او ددې لوبو پر اهمیت پوه یو. دماشومانو لوبې د هرې ټولنې دفولکلور دفرهنگ یوه برخه ده. دغه عنعنوي لوبې معتبر او باوري ملي ارزښتونه دي، باید چې هغوته په باور او درښبت قایل شو او په معقوله او منطقي لاره یې په خپلو ښوونیزو او روزنیزو کړنلارو او پروگرامونو کې ځای کړو.

دافغاني ماشومانو عنعنوي لوبې دومره زیاتې دي چې دهغو دټولو راټولونه او د ځانگړتیاوو او جزئیاتو یادونه دزِرمنه کاغذ مثنوي کیږي او پرله پسې (دوامدار) کار غواړي.

هغه څه چې په دې کتاب کې راټولې شوې دي، ځینې مشهور لوبې دي چې په خروار کې دموټې حیثیت لري.

ښايي ځينې لوستونکي د کتاب د مطالعې پروخت د هغه څه چې موږ ليکلي دي او پخپلې سيمې او کورو کلي کې د ځينو لوبو د سرته رسولو په طريقه کې لږ او ډېر توپير احساس کړي، دا په هيڅ وجه دا معنا نه لري چې د لته د بيان طرز يا په هغه ځای کې د لوبې د سرته رسولو (اجراء) په طرز کې اشتباه شوې ده، بلکې علت د لوبو له پاره د ځانگړي او ثابت نورم نشتوالی او د ځانگړو سيمه ايزو دودونو (رواجونو) او ذوقونو دا غيزو منه ده.

له دې ټولو موجودو توپيرونو سره سره د لوبې پايلې (نتيجې) هماغه دي چې بايد وي. زموږ موخه او هدف د ټولو مثبتو اړخونو د نتايجو خپرول او عامول دي او هيله من يو توفيق ومومو چې په راتلونکي کې په دې برخه کې زيات گټور او اغيزمن کارونه ترسره کړو.

داريک د گرځنده کتابتونونو له ادارې نه د مننې په څرگندولو سره دا مجموعه په دې هيله وړاندې کيږي چې د نن ورځې افغاني ماشومانو ته له خپلې پروني، ټولنې سره پيوند ورکړي او د افغاني ملي فولکلور د ميراث ساتنې په برخه کې خدمت وشي.

والسلام

خواجه غلام جيلاني شبل

میران او جوړې

میران او جوړې

په هغو لوبو کې چې په ډله ایزه توگه تر سره کیږي، په عمومي ډول ماشومان پردوو ټیمونو یا ډلو ویشل کیږي. د ټیم او ډلې دجوړېدو په وخت کې هیڅ ډول خپلولي او ملگرتیا په پام کې نه نیول کیږي او د مـــاشوم مینه او غوښتنه هم پکې ټاکونـــکی رول نه لري، نو لـــه همدې کبله هیڅوک هم په دې یا هغه ټیم کې ناراضي نه وي.

د لوبې له شروع کیدونه د مخه ماشومان له خپل منځ نه دوه تنه چې د عمر، استعداد، هوښیارۍ، ځواک (توان) اوپه لوبه کې د مهارت له مخې تر نورو زیات وي، د میرانو (دډلی مشریا سرټیم) په توگه ټاکي.

میران په خاصو ځایونو کې ودریږي او ماشومانوته دستور ورکوي چې «موټی او څپیړه» راشي. ماشومان دوه دوه تنه یو دبل پر اوږه لاس اچوي، گوښه ځای ته ځي او هلته په پټه د ځان له پارد مستعارنومونه انتخابوي. په دې لړکې زیاتره د کاغذ او قلم، موټی او څپیړه، څټک او کولنگ، بیاتي او چاقو، تار او ستن او... نومونو انتخاب معمول دي. هغوی د مستعارونومونو

له انتخابولو څخه وروسته په ترتیب سره په خاصو تشریفاتو دمیرانو مخې ته دریږي او په یوه آواز غږ کوي:

- دواړو میرانو، اې هلې!

میران هم ځواب ورکوي:

- سلې (بلې)!

- څوک موتې اخلي څوک څپېړه؟

یو میر چې دانتخاب نوبت یې وي، وایي:

- زه موتې (یاڅپېړه) اخلم. هغه ماشوم چې مستعارنوم یې انتخاب شوی وي د هماغه ټیم دمل (غړي) په توګه منل کیږي.

په دې ترتیب د کلي او یا کوڅې ټول ماشومان چې په لوبه کې دګډون مینه او هیله لري، په دوو ټیمونو ویشل کیږي.

دلوبې دنوبت د پیل کیدو له پاره هم عادلانه لارې چارې شته.

د لوبې
د پیل کیدو
له پاره پچه

د لوبې د پیل کیدو له پاره پچه

الم، دولم... لس، شل، دېرش، لمده وچه:

په هغو لوبو کې چې ددوو ټیمونو یادوو تنو ترمینځ سرته رسیږي، دلوبې شروع کیدو نوبت دوچې او لمدې په اچولو او یا «شیر اوخط» سره کیږي.

«لمده وچه» داسې ده چې دیوې هموارې تیګې (ډبرې) یا کوډږي یوه خوا د خولې د لاړو په وسیله لمدیږي او دیو ټیم مشر هغه پورته ګوزاروي. هغه وخت چې لانوموړې تیګه په هوا کې وي، مقابل لوري میر دوچې یا لمدې په ویلو سره خپل انتخاب بیانوي. پر ځمکه باندې د تیګې له لویدو څخه وروسته که د هغه انتخاب شوې خوا پورته وي، دلوبې د پیل کیدو نوبت د هغه وي، که نه وي مقابل لوری خپله لوبه پیل کوي.

همدغه عمل د فلزي سکې په وسیله هم سرته رسیږي، چې« شېر او خط» ورته وایي. دسکې عکس لرونکی مخ« شېر » او هغه مخ چې د پول دارزښت عدد یې پرې لیکلی او ضرب شوی وي« خط » ورته ویل کیږي. د لوبې د پیل کیدو له پاره د پچې اچولو له نورو طریقو او لارو چارو، لکه

جـفت او طـاق، يـا ذهـني پوښتنو څخه هم کار اخيستل کيږي.

په هغو لوبو کې چې فرد د جمع به مقابل کې واقع کيږي، دلوبغاړي انتخاب په نورو لارو کيږي. په ماشومانو کې ډېرې معمول لارې چارې لس، شل، ديرش او الم، دولم دي.

لس، شل، دېرش، زياتره د کوچنيو ماشومانو ترمينځ چې لا داوږدو جملو د يادولو توان او قوت نه لري، رواج دي. دسرته رسولو لاره يې داسې ده چې ماشومان دوه دوه تنه په نوبت سره يو دبل په مقابل کې ودريږي. يو يې دخپل لاس ورغوی پخپله يا دمقابل لوري ماشوم پر سينه ږدي او په شميرلوپيل کوي: لس، شل، دېرش، څلويښت،... سل. د هرعدد په ويلو سره خپل لاس پخپله او دمقابل لوري پر سينه ږدي. د «سل» کلمې دويلو په وخت کې چې يې لاس د هرچاپه سينه وي، هغه وځي. دغه جريان تر هغه پورې چې يو تن پاتې شي، ادامه مومي. وروستی ماشوم هغه څوک دی چې بايـد په لوبـه کـې د ټولو ماشومانو د پاملرنې وړوګرځي.

په ځينو ځايونو کې لس، شل، دېرش په دې ډول اجراء کيږي چې د «سل» کلمې له ويلو څخه وروسته دا لاندې کلمې هم په دې ترتيب ورزياتيږي:

«لس، شل، دېرش، څلوېښت، پنځوس،... سل، تق تق، بی، نی، پو، چوق» او په دې ترتیب چې په هر چا د «چوق» کلمه برابره شي، هغه وځي. او په ځینو سیمو کې ترټاکلی شمیر وروسته وایي: «اړنگ بړنگ، ستاري ړنگ، ایچنو، پیچنو، پیو و پړنگ» د هرچا په نوم چې د «پړنگ» کلمه راشي هغه وځي.

دلس، شل، دیرش یوه بله طریقه هم په دري ژبو سیموکې رواج لري، چې لږه اوږده ده او په هغې کې داسې ویل کیږي:

«ده. بیست، سی، رفتم، به، عروسی، ده موتر، تکسی، یک، غوری، بانجان، بود، طوی، غلام، جان، بود»

آش، باش، تکری کلان ما، توباش.

د یادونې وړ ده چې زیاتره ماشومان په ځانگړې توگه نجونې اکثر وختونه د الم، دولم په ویلو سره پچه اچوي د اسې چې: دوه ماشومان مخامخ ودریږي. یو له هغو څخه په داسې حال کې خپل لاس د هرې هجاء په تلفظ کولو سره په ترتیب سره پخپله اود مقابل لوري پر سینه ږدي، په وزن لرونکي غږ وایي:

الـم، دولـم، اسـپاتنگ، اکاکش، دل وزیر، وزیرتنگ، پیر، پاد، شاه.

په هر ماشوم چې د « شاه » کلمه برابره راشي راوځي او نور د يو ماشوم تر پاتې کيدو پورې الـــم، دولـــم ته دوام ورکـــوي. ورستنی تن بايد د نورو په مقابل کې په لوبه پيل وکړي.

په ځينو دري ژبو سيمو کې د لوبې سرته رسيدلو څخه وروسته کله چې ستړي او د لوبې له ګټلو يا بايللو څخه راضي يا ناراضي ماشومان يو له بله بيليږي او خپلو کورونو ته ځي، يو ماشوم غږ کوي:

–زير پايت چيست ؟

يو بل ځواب ورکوي:

– نخود !

ټول ماشومان په يوه غږ وايي:

–هر کس برود به خانه خود !

او بيا ټول په منډه منډه خپلو کورونو ته ځي.

پڻ پٽھونی

پټ پټونی

دا لوبه په ماشومانو کې ډېره عامه اورواج لري. په بېلا بېلو سيمو کې په بېلا بېلو طريقو سره تر سره کېږي. دسترګې پټولو له پاره لومړی يو خاص ځای، لکه ديوال، دروازه، ونه، لويه ډبره او... د «جر» په توګه ټاکل کېږي. وروسته بيا يو ماشوم په لس، شل، دېرش يا الم، دولم سره ټاکل کېږي چې خپلې سترګې پټې کړي. دغه ماشوم ته د لوبې په اصطلاح «سپوږمۍ» وايي. «سپوږمۍ» خپل مخ په «جر» باندې ږدي او خپلې سترګې پټوي. يو ماشوم له هغه څخه پوښتنه کوي:

–د پښو لاندې دې څه دي؟

– تخته!

– که څوک ګوري مور او پلار يې پر تخته!

نور ماشومان ځي او هر يـو ځـان په يوه ګوښه ځای کې پټوي. د پټېدلو په جريان کې هغه «سپوږمۍ» ماشوم په لوړ غږ پوښتنه کوي:

– سپوږمۍ؟

او نور ځواب ورکوي:

– نه!

دغه پوښتنه او ځواب ادامه مومي، تر څوچې «سـپوږمۍ؟» او «نـه!» غـږونه لوړې انګـازې پـيدا کړي او ماشومان يې

همداسې وايي: سپوږمۍ نه، سپوږمۍ نه، سپوږمۍ نه...!

کله چې ماشومان غلي شول او د «سپوږمۍ» پوښتنې ته یې ځواب ورنه کړ، هغه خپلې سترګې پرانيځي او د ماشومانو په لټولو پیل کوي. له بلې خوانه نور ماشومان هم له خپلو پټ شویو ځایونو څخه راوځي، بې له دې چې له «سپوږمۍ» سره مخامخ شي، باید «جر» ته خپل ځان ورسوي.

د منډو رامنډو او رانيولو په لړکې ماشومان د لوبې په زړه پورې والي او «سپوږمۍ» ته د آزارورکولو له پاره قصداً جر خواته نه ځي، یو د خوابله خوا ته پوره وهي، وايي:

الله سپوږمۍ، الله سپوږمۍ!

او له سپوږمۍ نه یو د خوا بله خوا تښتي.

په دې جریان که چیرې «سپوږمۍ» په دې بریالۍ شي چې کوم لوبغاړی راونیسي، یایې په سر اوبدن باندې لاس ووهي، هماغه ماشوم «سپوږمۍ» کیږي او لوبه دوام پیدا کوي. او که نه هماغه لومړنۍ «سپوږمۍ» مکلفه وي چې بیا خپلې سترګې پټې کړي.

نتیجه:

پټ پټونی ماشوم چُست او چالاکه کوي. منډې رامنډې او ټوپونه وهل پکې یو ډول ورزش دی، خو هغوی باید په دې وپوهول شي چې په تنګو او تیاره ځایونو، لکه د تنور په منځ او همدا رنګه په خطرناکو ځایونو، لکه د بام پرڅنډو او نورو کې پټ نه شي او یا منډې ونه وهي.

اِس فِلس



اِس فِلس

دا هم یو ډول سترګې پټول دي، چې زیاتره د کابل په ښار کې رواج لري. په دې لوبه کې د ګډون کوونکو ماشومانو شمېر او د هغوي عمر نه دی تعین شوی او په عمومي ډول پکې ورې نجونې او هلکان، په ګډه لوبې کوي.

دلوبې کولو له پاره ماشومان په درې کسیزه ډلو ویشل کیږي. درې واړه یو دبل لاسونه نیسي او دداېرې په بڼه یو دبل مخې ته دریږي او وايي: اِس، فِ، لسِ!

د هرې هجاء له تلفظ سره خپلو لاسونوته وړاندې وروسته ټکان ورکوي، او د «لسِ» کلمې په ویلو سره د خپلو ملګرو لاسونه خوشې کوي، په ډیره چالاکۍ او دقت سره خپل ښي لاس په کیڼ لاس بردي.

د هر چا د لاس اینبودلو شکل چې له نورو دووتنو سره مختلف وي، هغه وځي.

کله چې له لوبې کوونکو څخه یوازې دوه تنه پاتې شي، د «سپوږمۍ» د معلومولو له پاره یو ماشوم چې مخکې راوتلی وي، له هغه سره همکاري کوي. دغه شخص ته د لوبې په اصطلاح« ښوروایي » وايي.

وروستی ماشوم «سپوږمۍ» کیږي. سپوږمۍ خپلې سترګې پټوي او د لوبغاړو د فرمایش او غوښتنې په اساس د اعداد و ضرب زباني، مثلاً پینځه، پینځه په لوړ غږ وایي. نور ماشومان وخت لري چې د پینځه پینځه ضرب له ختمیدو نه مخکې خپل ځان پټ کړي.

«سپوږمۍ» د ضرب زباني په ختمیدلو سره سترګې پرانیځي او د ماشومانو په لټولو شروع کوي. هر ماشوم چې ویني، د شهادت په ګوته د هغې خواته اشارد کوي وایي: اِس فِلس! د لټولو په لړ کې نور ماشومان کوښښ کوي چې په پټه ځان «سپوږمۍ» ته ورسوي، پخپل لاس د هغې بدن لمس کړي او وایې: تاپه!

که چیرې کوم ماشوم وکړای شي «سپوږمۍ» تاپه کړي، سپوږمۍ مکلفه دد چې بیا سترګې پټې کړي او ضرب زباني ووایې. غیر له دې څخه لومړنی ماشوم چې «اِس فِلس» شوی دی «سپوږمۍ» کیږي او لوبه دوام پیدا کوي.

نتیجه:

دغه لوبه ماشومان احتیاط کوونکي، صبرناک او فعاله روزي او له هغو سره د ضرب زباني په زده کړه کې هم مرسته کوي.

ڳاٿي يا

پينځڪاڻي


PROPERTY OF ACKU
8770

ګاټي یا پینځکاڼي

ګاټي (پینځکاڼي) چې په ځینو دري ژبو سیمو کې ورته (انجاق یا پنجاق) هم وایي، له عامو او مروجو لوبو څخه دي چې زموږ د هېواد په کلیو، بانډو او ښارونو کې په ډېر لږ توپیر تر سره کیږي. ګاټي یا پینځکاڼي دوه کسیزه لوبه ده، چې زیاتره د نجونو له خوا کیږي، خو هلکان هم ورسره مینه لري.

دغه لوبه چې د مسابقې په بڼه تر سره کیږي، وسیله یې پینځه کاڼي دي. لوبغاړي هوډل ته مخامخ کښیني د لوبې د شروع نوبت په جفت او طاق سره معلومیږي. د دغې لوبې لومړنۍ مرحله چې د لاس د پنجې شا او یا د څمڅۍ د شا په نوم یادیږي، په دې ډول ده:

لوبې کوونکی دانې په یوه لاس پورته ګوزاروي، د لاس د پنجې شا ترهغونه لاندې نیسي، کله چې کاڼي د لاس د پنجې پر شا ولویږي، هغه بیرته پورته ګوزاروي او کوښښ کوي چې په هوا کې یې ونیسي. که چیرې ځینې کاڼي لاندې پر ځمکه ولویږي هغه په دې ډول پورته کوي چې یوه دانه پورته اچوي او د هغې د پورته اچولو او ښکته راتلو تر مینځ وخت کې یوه دانه له ځمکې

ځخه را پورته کوي او خپله پورته اچول شوې دانه (دلاس دانه) په هوا کې نیسي (دلاس دانه عموماً د نیم متر یا په لږ څه کم یا زیات لوړوالي سره پورته اچول کیږي).

هر کله چې لوبغاړی د ځمکې پر مخ کاڼي پورته نه کړای شي او یا یې د لاس دانه دلاس نه ولویږي، نوبت یې سوزي، دغه قاعده او طریقه د لوبې په ټولو پړاوونو (مرحلو) کې رعایت کیږي.

دلوبې وریسې پړاو (یک کک) دی. دانې (کاڼې) په میدان کې خورې ورې اچول کیږي له هغو ځخه یو د لاس د کاڼي یادانې په توګه راپورته کیږي او لوبغاړی دلومړۍ مرحلې په شان د یوې دانې په پورته اچولو سره دکاڼو دانې د ځمکې له مخ ځخه راپورته کوي.

په همدې ترتیب دوه ګونې، درې ګونې او ځلور ګونې مرحلې یو په بلې پسې سرته رسیږي؛ یعنې لوبغاړي په خپل نوبت کې کاڼي دوه دوه، درې او ځلور په یو نوبت کې له ځمکې ځخه راپورته کوي او دخپل لاس دانه (کاڼی) هم په هوا کې نیسي. په شمالي سیمو کې دغه مرحلې د دو دو قوش، سه سه قوش او چهار چهار قوش په نوم یادوي.

وروسته بیا د «عکک» مرحله شروع کیږي. کاڼې پر ځمکه اچول کیږي. لوبغاړي د خپل لاس دانه پورته اچوي او له بنکته

راتللو څخه د مخه یو دانه راپورته کوي. وروسته بیا د غه دانه د خپل لاس له دانې سره یو ځای د واړه پورته اچوي او له ځمکې څخه د ریمه دانه راپـــورته کـــوي. د رې دانـــې پورته اچوي او څلورمـــه راپورته کوي او بـــالاخره څلور واړه دانـــې پورته اچوي او کوښښ کوي بې له دې چـــې پورته اچولـــې شوې دانې (کانې) پر ځمـــکه ولوېږي، پینځمه دانه هم راپورته کړي.

د دغې مرحلې د سرته رسولو په ترڅ کې ځینې لوبغاړي د «عَکه» غږ هم کوي.

کله چې د عکک مرحله سرته ورسیږي، د «هگۍ» نوبت رارسیږي. کانې پر ځمکه اچول کیږي، لوبغاړی د لاس د دانې په پورته اچولو سره، د ټولو مرحلو په شان یو دانه له ځمکې څخه راپورته کوي. کله چې یې دویمه دانه له ځمکې څخه راپورته کړه له هغې سره په یو وخت کې لومړۍ دانه د لاس له ورغوي څخه په ځمکه ږدي او دې کارته دوام ورکوي، تر هغې چې ټولې دانې راپورته او بیا کیښودل شي. وروسته له هغې نه د خپل لاس دانه پورته گوزاروي او پخپلو گوتو د جارو په څېر کانې راټولوي. کله چې څلور واړه دانې د میدان پر مخ راټولې شي«یاهو» وابې، د لاس دانه پورته گوزاروي او له ښکته راتللو څخه د مخه هغه

موتې کوي او ځلور واړه دانې يو ځاى راپورته کوي او د لاس دانه هم په هوا کې نيسي. دغه مرحلې ته «جَمعک» (غِنډک) وايي.

د لوبې هر يو طرف چې له خپل خپل حريف څخه د مخه پورتنۍ مرحلې تر سره کړي د دروازې ته رسيږي. هغه لوبغاړي چې نوبت يې دي، د کيڼ لاس ابهام د ګوتې نوک او د شهادت (سبابه) د ګوتې نوک پر ځمکه باندې داسې ږدي چې منځنۍ ګوته د شهادت د ګوتې د پاسه واقع شي او د لاس د ګوتو ترمنځ يو خالي ځاى د ګنبذي دروازې په شان جوړ شي. کاڼي د خپل ښي لاس پواسطه د خپل کيڼ لاس د مړوند لاندې تيروي او له دروازې د پاسه يې ميدان ته غورځوي. حريف يې يوه دانه چې دروازې ته نږدې وي د «سپي» په نوم انتخابوي.

لوبغاړى د خپل لاس دانه پورته اچوي او د ميدان پرمخ دانې يوه يوه د خپلو ګوتو په څوکو د دروازې خوا ته بيايې او له دروازې څخه تيروي. «سپي» نه يوازې نه تيريږي، بلکې له هغه سره د لاس يا نورو کاڼو هر ډول تماس هم د لوبغاړي نوبت سوځوي. کله چې ټولې دانې له دروازې څخه تيرې شوې، «سپى» بايد په يو حرکت سره له دروازې څخه تير کړاى شي. وروسته له هغې د لاس دانه د «سپي» په ځاى اينبودل کيږي په« امپُلُوق » له دروازې څخه تيريږي.

کله چې د لوبې هرد خوا دغه د کانو کړکیچنې او پېچلې مرحلې له خپل حریف څخه زر پای ته ورسولی شي، د لوبې وړونکی دی او داحق لري چې خپل حریف ته سزا ورکړي.

د لوبې بایلونکی د خپل لاس ورغوی پرځمکه بږدي. وړونکی کاني دهغو دمشخصاتو (درنگ او فزیکي جوړښت) له مخې د موږک، پشي، چاقو، ټوپک او گُرز په نومونو نوموي او دمقابل لوري (بایلونکي)د لاس پر شاهي بږدي. هغه یې د لومړي مرحلې په شان په یو حرکت (د لاس شایا د ځمځۍ شا په شان) پورته اچوي او کوښښ کوي چې پر ځمکه باندې له لویدلو څخه دمخه هغوی په هوا کې ونیسي. نیول شوې دانې غیر فعاله کیږي، مگر هغه دانې چې پر ځمکه لویږي، د ځان بلا کیږي.

وړونکی هغه هر یو دانه (کانی) را اخلي پورته یې اچوي او دښکته راتللو تروخته پورې، ددانې دنوم ،مشخصاتو له مخې(موږک سوکنډل، پشي گرول، چاقو د لاس په پنجې په څنډه وهل، ټوپک د گوتې په نوک وهل، گُرز په سوک وهل) د بایلونکي د لاس په شا چې د ځمکې پرمخ واقع وي، وهي. دغه وهل دوړونکی د نوبت تر سوځیدلو او یادبا یلونکي تر عفوه کولو پورې ادامه مومي.

نتیجه:

کانی-گاټې یا پنځکاني لوبه ماشومان حوصله مند او د لاس پنجې یې قوي کوي. د ماشومانو تر منځ ملگرتیا او مینه پیاوړې کوي او دا چې دالوبه معمولاً په یو گوښه ځای کې کیږي د نورو له پاره هیڅ ډول مزاحمت نه رامینځ ته کوي.

ځغلول

د آس ګوټي

د آس ګوتې څغلول

آس ګوتې څغلول د ماشومانو خوښه او يود په زړه پورې لوبه ده. دغه لوبه ګټيل او بايلل نه لري، يوازې د تفريح او ساعت تيرۍ له پاره تر سره کيږي. آس ګوتې څغلول دوه کسيزه لوبه ده. تر سره کول يــې د يــوې دوه درې متره اوږدې رسۍ يا تاوکړ څادر په وسيله کيږي. دلوبې د سرته رسولو طريقه په دې ډول ده:

دوه همزولي ماشومان د ساعت تيرۍ له پاره په خپل منځ کې موافقه کوي او په دې راضي کيږي چې يو يې بايد «آس» اوبل يې «سپور» وي. آس سپور، درسۍ يا څادر منځنۍ برخه د آس په غاړه کې اچوي، دواړه سرونه يې دهغه له اوږو څخه مخې خوا ته بيايي، له تخرګونو نه لاندې يې راتېروي او درسۍ دواړه سرونه د قيضې په شان په لاس کې نيسي. سپور د قيضې د هر سر په راکاږلو سرد د آس مخه چې هرې خواته وغواړي راګرځوي او باېې د حرکت لوري ته بدلون ورکوي. آس ګوتې ترمخ او آس سپوريې تر شا «چو، چو» وايي. آس څغلي منډې وهي، تر هغې چې ښه ستړی شي.

په ځینو دری ژبو سیمو ماشومان د آس ګوتي ځغلولو په وخت کې دادري شعر هم وایي:

اسپک زیبای من
دست کشم بر سرت
یارک تنهای من
پاک کنم پیکرت
کاکلت افشان چراست؟
باز ترا زین کنم
یالت پریشان چراست؟
قیضه و قمچین کنم
بال کشان تندرو
از چه غمګین ګشته ای؟
جانب مشرق بدو
زار و حزین ګشته ای؟
یک دو سه شب رد زنیم
قهر مکن جان من
منزل کوته زنیم
ماد فروزان من
باز رسیم آن جهان
مُلک پری چهرد ګان

نتیجه:

آس ګوتي ځغلول د عضلاتو د تقویې او د ماشومانو د سالمې ودې له پاره ګټه لري. همدارنګه د ماشومانو تر منځ د ملګرتیا او د همکارۍ حس د پیاوړې کولو له پاره اغېزمن دی.

خط خط کول

یــــا

«خطکان»

خط خط کول یا «خطکان»

خط خط کول یا «خطکان» دماشومانو داولسي لوبو په کتار کې خاص ځای لري. د کوچنې او کلي ماشومان او یا هغه ماشومان چې پخپل مینځ کې ملګرتیا لري، په یود معموله طریقه پر دوو ډلو ویشل کیږي. ددواړو ډلو دفعالیت ساحه د څلورخواوو او سرحداتو په تعین او تثبیت سره تاکل کیږي.

کله چې د لوبې څرنګوالی تصویب شو او دلوبې په وخت، شرایطو او مقرراتو باندې موافقه وشوه، د هرګروپ میر او غړي خپل تاکلي ځای ته ځي او په کار پیل کوي. هر لوبغاړی د تباشیر، د سکروتوټه یا لرګي او اوسپنه چې څوکه یې تیره وي، له ځان سره لري. دځمکې پرمخ، پر دیوال، دروازې او د کړکۍ شا، تر فرش لاندې، دخونې په چت او لرګیو او لنډه داچې په هرد ګوښه او کنار، په ځانګړې توګه په تیاره او ګوښه ځایونو کې خطونه راکاږي. لنډ او موازي خطونه، لکه د نانوایي د چوب خط په شان. هر یو لوبغاړي په ډیرې چالاکۍ او زیاتو خطونو په

کاږلو سره د کش شویو خطونو ځایونه یا موقعیت خپلې حافظې ته سپاري او د ټاکلي وخت په پوره کیدلو سره د یو ګروپ غړي خپل حریف ګروپ ته غږ کوي:

- بولي بولي ؟

په هغه صورت کې چې مقابل ټیم خپل کار پای ته نه وي رسولی، میرېې د لږ نور وخت ترلاسه کولو له پارد ځواب ورکوي:

- نه بولي.

- که چېرې یې کار پای ته رسولی وي، وایي:

- بولي!

د «بولي» په ویلو سره ددواړو ټیمو نوغړي په یو ځای کې راټولیږي د یوګروپ د فعالیت ساحه، البته د نوموړي د مخالف یا حریف ټیم د ټولو غړیو په مخکې په ډېر غور او دقت سره یې په تالاشۍ پیل کوي. هر چیرې چې د خپل حریف خط او نښاني پیدا کړي په تباشیر یا سکرو باندې پرې چلیپا (×) یا د بطلان خط راکاږي او پخپل بریالیتوب خوښي ښرګندوي . کله چې د

مقابل لوري (حریف) د پټو ځایونو د موندلو له پاره وخت پای ته ورسیږي د دواړو غړیو میران او غړي په ګډه سره د ګروپونو د فعالیت ساحې په تفتیش او پلټنه پیل کوي.

د هر ګروپ غړي هغه ځایونه چې خطونه یې پکې کاږلي دي، ښیي، که چیرې د خط پر سر خط یا چلیپا (×) کش شوې وي هغه نه شمېرل کیږي، خو هغه خطونه چې د حریف له لیدلو څخه خوندي (مصؤن) پاتې وي، هغه شمیري او د خطونو مجموعه یادداشت کوي، وروسته بیاد هغې بلې ډلې ساحه هم په پوره ترتیب لټول کیږي او هغه خطونه چې باطل شوي نه وي شمېرل کیږي.

د مسابقې وړونکی هغه ګروپ یا ډله ده چې د پاتې خطونو شمیر دیې له مقابل لوري یا حریف څخه زیاته وي.

نتیجه:

د خط خط کول یا «خطکان» لوبه ماشومان جدي، دقیق، پرخپل ځان متکي او هوډمن روزي، هغوی ته دا ورزده کوي چې په ډله ایزو بریالیتوبونو خوښ شي او خپلې فردي ګټې تر ټولنیزو

او ډله ایزو گټو څخه لوړې ونه گڼي ، همدارنگه د حساب د جمعې او تفریق په عملیو کې د هغوی مهارت زیات او پیاوړی کوي.

د لوبې عیب دادی چې امکان لري څینې بې پروا ماشومان د لوبې په جریان کې په بې پروایۍ سره د دیوالونو ، دروازو او... رنگونو او ښکلا ته زیان ورسوي.

کله کاچ

یـــا

«مهره گکان»

کله کاچ یا «مهره گګان»

کله کاچ چې په ځینو دري ژبو سیمو کې یې «مهره ګګان» بولي، د نویو ځوانانو په زړه پورې لوبه ده. دلوبغاړو شمېر یې په زیاتره وختونو کې څلورو تنو ته رسیږي. هر لوبغاړی د ځان له پاره چکله یا تیک لري. چکله، د لاس دورغوي په اندازه یو ټوټه ښویه او پلنه ډبره وي چې زیاتره له سیندنیو ډبرو څخه انتخابیږي. دمیدان مهره یوه دغوز په اندازه غونډاري کاڼی وي. یو لوبغاړي مهره په یوې ټاکلي اندازې سره غورځوي. دلوبې هر ګډون کوونکی په ترتیب سره او له یو ثابت ځای څخه خپله چکله دمهرې خواته غورځوي. دهر چا چکله چې له نورو څخه مهرې ته نژدې پر ځمکه وغورځېږده، نوبت دهغه دی. نور حریفان ملګري ورته وايي:

-کارکوه!

هغه خپله چکله له ځمکې څخه راپورته کوي. د خپلې ښي پښې د پنجې سر دهغې پر ځای ږدي او په ولاړې دیو لوبغاړې چکله وهي او شمیري یې: یو! بیا خپله چکله پورته کوي په هماغه ترتیب د بل لوبغاړي چکله وهي او شمېریې: دوه!

وروسته له هغې چې دټولو لوبغاړو چکلې ووهي

اووېــــې شمېري ، د خــپلې چــکلې د ښـــنډې پواسطه د مـــيدان مهرد په کلکه وهي. د مهرې په واسطه وهل شوي واټن (فاصله) په يو قبول شوي مقياس (قدم ، منډ ، لويشت) سره اندازه کيږي ، د هغې شمېر له هغـو گوزارونو سره جمع کيږي چې د حريــفانو په چکلو باندې تـر سره شوي وي ، او د هماغه لوبغاړي پـه شـمېر کې ياد داشت کيږي او د لوبې جريان له سره پيل کيږي. لوبه تر هغه پورې دوام کوي چې له لوبغاړو څخه يو تن مورد (۱) پورد کړي.

مورد هماغه عدد دي چې د لوبې له پيل کيدو څخه د مخه د لوبغاړو په واسطه په لوبه کې د گټلو د معيار په توگه ټاکل شوي وي. د لوبې وړونکی شرط وړي. دا شرط کيدای شي د بايلونکو لوبغاړو پر اوږو سپريدل يا د هغو د لاس د پنجو پر شا د خپل لاس د پنجې پر ښنډه وهل وي.

نتيجه:

کله کاچ يا « مهرگکان » د ماشومانو لاسونه او متې قوي کوي او هغوی په نښه ويشتلو او شمېر لو کې تکړه کوي. خو دا احتياط پکار دي چې ماشومان اونوي ځوانان په لوړو اوجدي ارزښتونو باندې شرطونه ونه تړي. ځکه چې امکان لري د قمار وهلو لوري ته انحراف وکړي.

---

(۱) مورد: مَرّد ، عدد

زرسی لوبه

رسۍ لوبه

رسۍ لوبه او دهغې له زده کړې او د مهارت له تر لاسه کولو سره ماشومان او په ځانګړې توګه نجونې ډېره مینه او علاقه لري. دلوبې وسیله یوه ټوټه رسۍ ده چې اوږدوالي یې دلوبغاړي له قد سره متناسب انتخابیږي. رسۍ لوبه ډېر ډولونه لري، چې ځینې ډېر معمول یې دا لاندې دي:

۱-عادي رسۍ لوبه: لوبغاړی د رسۍ دوه سرونه په دواړو لاسونو نیسي او هغه په نیم دایروي شکل په ځان نیسي، په ډېر مهارت سره یې تر پښو لاندې او سر د پاسه له لنډو لنډو ټوپونو سره تیروي. د رسۍ لوبې ټوپونه ځای پر ځای او د پښو په څوکو تر سره کیږي.

۲-په دووټوپونو رسۍ لوبه: په دغه ډول رسۍ لوبه کې لوبغاړی د رسۍ په هر ځل ګرځولو، له پښونه لاندې تر سره پورې دوه ځله په پنجو ټوپونه وهي. یا په بله وینا په دوه ځله ټوپ وهلو سره یو ځل رسۍ له خپلو پښونه لاندې تیروي.

۳-بیاتي (قیچي) رسۍ لوبه: بیاتي رسۍ لوبه هم د لومړي ډول غوندې ده. په دې توپیر چې د رسۍ لوبغاړی د پښو له لاندې څخه د رسۍ له تیرولو او ټوپ وهلو نه وروسته خپل لاسونه د بیاتي په شکل یو له بل نه تاوه وي چې له هغې سره یو ځای رسۍ

يو دايروي مارپيچ بڼه(شکل) غوره کوي او دلوبغاړي ترپښو لاندې او د سرد پاسه تيريږي. ددغه حرکت له تکرارولو څخه چې زيات مهارت غواړي، يود ښکلې دليدلو وړ منظرد جوړيږي.

٤-درې کسيزه رسۍ لوبه: دوه کسه ماشومان په يو ټاکلي واټن(فاصلې) سره ودريږي، او د يوې رسۍ دوه سرونه نيسي او هغې ته په دايروي شکل حرکت ورکوي، د رسۍ لوبغاړي په مينځ کې په هغه ځای چې رسۍ د موج او څپو په حال کې وی، ولاړ، او ځای پرځای ټيټيږونه وهي. رسۍ يې تر پښو لاندې او د سر د پاسه تيريږي.

٥-د منډې په حال کې رسۍ لوبه: د رسۍ لوبغاړی هماغسې چې منډې وهي رسۍ په خپل ځان څرخوي او کوښښ کوي چې رسۍ يې په پښو کې بنده نه شي. که څه هم د رسۍ لوبه ماشومان بې له کومې مسابقې او ياګټنې او بايلنې ته په پاملرنې سره سرته رسوي، خو بيا هم په هر صورت، هغوی چې په دقت او مهارت سره لوبه ترسره کوي دلوبې وړونکی او اتل(قهرمان) ګڼل کيږي.

نتيجه:

رسۍ لوبه مخکې له دې چې لوبه ده، يوډول ورزش هم دی. ماشومان قوي، روغ او صحتمند ساتي. يوه ډيره څرګنده او اغيزمنه ګټه يې د پښتورګي او مثانې د تيګو دفع کيدل او له منځه وړل دي.

رمضاني

رمضاني

رمضاني یوه په زړه پورې عنعنوي لوبه ده چې د سرته رسولو له پاره یې په کال کې یو ځل، هغه هم د روژې په مبارکه میاشت کې وخت او زمینه برابرېږي. دا لوبه او ساعت تېري د روژې د مبارکې میاشتې په پنځلسمه شپه د ماسختن لمانځه نه وروسته تر سره کېږي. کله چې د روژې مبارکه میاشت ولیدل شي، ماشومان او نوي ځوانان د رمضاني له پاره په چمتوالي پیل کوي. له خپل منځ څخه یو تن چې هوښیار او په تن لږ ډنګروي، د رمضاني «لیوه ګي» په توګه ټاکي. د دغه لیوه ګي له پاره یوه اوږده مخروطــي خولۍ جوړوي او هغه په زرورق ښکلې کوي. یو ډولکی (طبله) هم ورته پیدا کوي.

د روژې د میاشتې په پنځلسمه شپه هغوی د لیوه ګي مخ په مسخره ناکه بڼه رنګ او پوزه یې سره کوي. هغه کاغذي خوله یې پرسر ږدي او له زرق وبرقه ډک لباس وراغوندي، پوستین، کورتۍ یا جانپر سرچپه وراغوندي او پر غاړه کې یې یوه نرۍ

رسۍ هم اچوي. يو ماشوم د ليود ګۍ رسۍ نيسي، بل زيربغلي يا ډولکۍ غاړې ته اچوي او د کلي پر کوڅو او کورونو ګرځي.

کله چې دروازه بيرته شي، ورننوزي. او د ډولکې خاوند په ډول وهلو پيل کوي. ليود ګۍ د هغه چاپه اشارد، چې رسۍ يې په لاس کې دد، مسخرد ناکه نڅا کوي. په درې ژبو سيمو کې هغه نور ماشومان چې په ليود ګۍ پسې روان وي، داسندرد وايي:

رمضان يارب يارب رمضان

السلام و عليک ماد رمضان

رمضان گشته باز آمد

بی نمازها سر نماز آمد

رمضان سی روز یاری می کند

شکم های پُر ره خالی می کند

ما بچه ها بوديم يک کم چهل و چار

يکی را زديم با چوب چنار

ما بچه ها بوديم علق بلق

يکی را زديم با ضرب غولق (غولک)

ما بچه ها بودیم عدو به عدو

یکی را زدیم با زخِ کدو

سر سر قلا (قلعه) تیر انداختیم

گرگ رمضانی رد پیش انداختیم

بی بی! هو کن، دسته دد کندو کن

هر چه داری نداری بیرو کن

په دې وخت کې د کور میرمن د خپل وس او توان په اندازه، اوړه، د غنمو یا جوارو نیني اوپولۍ، غوزان، بادام، توتان، ممیزیا نغدې پیسې هلکانو ته ورکوي. هلکان چې له یود کور څخه خپله رمضاني تر لاسه کړي، لیوه ګې مخکې کړي، په خندا او ګډا بل کور ته ځي او خپلې لوبې ته دوام ورکوي.

هلکان په ټولو کورونو ګرځي او رمضاني اخلي، کله چې شپه نیمې ته ورسیږي او هغوی هم د لوبې په پای کې ستړی ستومانه شي، نو په ډېرې خوشحالۍ په یوځای کې راټولیږي او هغه څه چې یې له کورونو څخه راټول کړي وي په برابره توګه ویشي.

مګر دهلکانو مشر یا «میر» او رمضاني «لیوه ګي» ته ترنورو لږه زیاته برخه ورکوي. کله چې هلکان یو له بله جلا کیږي او خپلو کورونو ته ځي، میر غږ کوي: ځی، په خیر لاړشئ، دادی «هم خرماشود هم ثواب».

نتیجه:

رمضاني یوه غوره عنعنه ده چې د یو کلي د استوګنو کورنیو ترمینځ د مینې او صمیمیت فضا رامینځ ته کوي. هلکانو ته جرأت وربخښي او هغوی ته د ملګرتیا تولنیزه روحیه ورکوي.

پندوس

پنډوس

پنډوس د نویو ځوانانو او ماشومانو په زړه پورې لوبه ده چې دهیواد په زیاترو سیمو کې رواج لري. د «اولسي لوبې» کتاب په استناد کرکټ لوبه دلومړي ځل له پاره په افغانستان کې رامینځته شوې چې پنډوس یا توپ ډنډه د هغې لومړنی شکل دی.

خو زموږ له نظره، سره له دې چې پنډوس یا توپ ډنډه له «بیس بال» سره ډېر ورته والی او مشابهت لري، خو په حقیقت کې زموږ دهېواد دلرغونې لوبې «گواوچوگان» یو ډول دی.

دالوبه په یو پراخ او هوارمیدان کې تر سره کیږي. دمیدان دواړه غاړې چې دپنځوس مترو په شاوخوا کې یود له بلې نه واټن (فاصله) لري، د غونډیویا ډیریو په نوم یادیږي. لوبغاړي د لوبې په جریان کې په دغه مسافه کې منډې وهي.

دلوبې آله اوود پوښي پنډوس (تینس توپ) یابل دې ته ورته پنډوس او یود ډنډه وي. لوبغاړي په یود معموله او مروجه طریقه په دوو ډلو (ټیمونو) ویشل کیږي او دنوبت نیولو له پاره هم «شیر او خط» یا «وچه لمده» اچوي.

د نوبت وړونکی ټیم غړي په لومړۍ غونډۍ یا ډیرۍ ودرېږي او یو یو په نوبت سره پنډوس وهي. د مقابل ټیم یوغړی هم په لومړۍ ډیرۍ کې ودرېږي او د حریفو لوبغاړوله پاره پنډوس ورگوزاروي. د مقابل ټیم نور غړي د میدان په مینځ او شاوخوا کې خپاره ولاړ او د پنډوس په څارنه کې وي.

لوبغاړي ته چې پنډوس ورگوزارېږي هغه یې د لاس په لرگې یا ډنډه وهي. هر لوبغاړي درې ځله د پنډوس وهلو حق لري. که چیرې هغه په درې واړه ځله کې د پنډوس په وهلو بریالی نه شي او منډه یې هم ونه شوه وهلای، دلوبې په اصطلاح «مړ» یا «سوځیدلی» گڼل کیږي. «مړ» یا «سوځیدلی» په هغه صورت کې بیا ژوندی کیدای، یا د پنډوس وهلو حق تر لاسه کولی شي چې کله یې دخپل ټیم کوم غړی پنډوس ووهـــي او په داســې حال کې چې مدافع ټیم د پنډوس په راوړلو بوخت وي، نوموړی خپـــل ځان دویمې غونډۍ یا ډیرۍ ته ورسوي او بیرته لومړۍ ډیرې ته ځان راورسوي.

که چیرې مدافعین کوم یو منډی وهونکی، غونډیو یا ډیریو ته له رسیدلو څخه د مخه په پنډوس وولي، د ټول ټیم نوبت سوځي او دلوبغاړو ځای بدلیږي.

دیادونې ورډه، تر هغه وخت پورې چې لوبغاړي په تپو یاډیریو کې وي، له ویشتلو څخه مصؤن او خوندي دي. که چېرې مدافعین په ډنډه وهل شوی پنډوس مخکې له دې څخه چې له ځمکې سره ولګیږي، په هوا کې ونیسي (قپ یې کړي) دلوبغاړي نوبت سوځي او خپل ځای بل ته پرېږدي. ځینې وختونه داسې هم پیښیږي چې یو شمیر لوبغاړي د ځان د ژوندي کولو له پاره خپل ځان دویمې ډیرۍ ته رسوي، خونه شي کولی چې بیرته خپل ځای ته ولاړ شي او نور ملګري یې هم دا توان نه شي تر لاسه کولی چې پنډوس په زوره ووهي او خپل ځان ژوندی کړي. په دې صـورت کـې لوبغاړی غیر فعاله کیږي اوبې له دې چې حریف ټیم ته نوبـت ورسیږي لوبه له په ټپه دریدلویا بن بست سره مخامخ کیږي.

له دې بن بسـت نه دراوتلو له پـاره د مدافع ټیم دوه تـنه په میـدان کې مخـامخ دریـږي او پنـډوس یو بـل ته اچوي. دې کارته دلوبې په اصطلاح ګیر یا «قپکان» وایي.

که چېرې قپ کوونکي یوبل ته نږدې ولاړ وي، هغوی چې په ډیریو کې بندپاتې دي، داعتراض په ډول وایي:

- یوه دمرغۍ تیریدلو لاره خوپرېږدئ!

که چېرې د پنډوس رسولو په جريان کې له قپ کوونکي څخه پنډوس پر ځمکه ولوېږي« مړه » له دې موقع څخه ګټه اخلي ، ځان په منډه ډېرۍ ته رسوي. که يوتن هم ژوندی شو ، د لوبې په ټپه دريدنه او بن بست ختميږي. بيا هغه کولی شي چې پنډوس ووهي ، تر څو هغه نور ملګري يې هم ژوندي شي. خو که چېرې د منډې په وخت کې کوم يو په پنډوس وويشتل شي د ټولو نوبت سوځي او بيا هغوی د مدافعينو پر ځای ودريږي.

دغه لوبه د لوبغاړو تر ستړي کيدو پورې دوام کوي.

نتيجه:

کولی شو پنډوس يا توپ ډنډه د هغو ملي لوبو په ډله کې وشميرو چې ماشومان او نوي ځوانان تندرست روزي. د دغې لوبې د ملي ارزښتونو له مخې پر حکومتی او رسمي مقاماتو لازم دي چې دغې لوبې ته رسمي بنه ورکړي او لازم مقررات ورته وټاکي.

ډی

ډډۍ

ډډۍ هم د پنډوس یا توپ ډنډې په څېر د ماشومانو او نویو ځوانانو له پاره په زړه پورې لوبه ده. د لوبې ډول، شرطونه او مقرارت له توپ ډنډې څخه ډېر پیچلي دي. له ځانګړتیا ووڅخه یې یوه داده چې دالوبه یوازې په دوو تنو هم کېدلی شي.

ډډۍ هغه لرګی دي چې معمولاً اتیا سانتي متره اوږدوالی لري او پېړوالي یې د لوبغاړو د متو او لاسونو په زور او قوت پورې مربوط دي. «لغړی» یې هم لنډلرګی دی چې معمولاً یوه لویشت اوږدوالی لري او دواړه سرونه یې د پنسل د څوکې په شان تېره وي. دډډۍ میدان پراخ وي او په غاړه کې یې یولنډ جر کیندل کېږي چې ژوروالی او پلنوالی یې دډډۍ د سرد ځائیدلو ګنجایش ولري.

ماشومان او نوي ځوانان له معمول سره سم پر دوو ډلو ویشل کېږي. میران د ګټنې اوبایلنې په شرط موافقه کوي او یوه شمیره تعینوي. دډډۍ شرط «زو» ویل او یا سپریدل دي. د نوبت دمعلـومـولو لـه پـاره« وچه لمده » یا« شیر اوخط » اچول کېږي.

هغه ټیم چې نوبت ګټي د میدان په غاړه کې د جر ترڅنګ راټولیږي او د مقابل ټیم غړي د لوبې د څارنې او د لغړي د قپ کولو او ورګوزارولو له پاره په میدان کې یو د خوا بله خوا خوریږي. لومړنی لوبغاړی لغړی د جر په پلنوالي د پاسه ږدي او د ډ ی سر لاندې جر ته ورننباسي، لغړي پورته ګوزاروي او په ډ ی بانديې يې په زوره وهي. د حریف ټیم غړي هڅه او کوښښ کوي چې لغړي په هوا کې پخپل لاس یا لمن قپ کړي (ویې نیسي). د نیولو په صورت کې د هغه لوبغاړي نوبت سوزي. او که لغړي قپ نه شي، د مدافع ټیم یو غړی هغه له هماغه ځایه د هغه جرخوا ته ګوزاروي چې ډ ی وربـــاندې ایـــښودل شوی وي. که چـــیرې لغړې له ډ ی سره ولګیږي او یا هغه جر ته نږدې د ډ ې د اوږدوالـــي په اندازه وغورځیږي، بیا هم د لوبغاړي نوبت سوځي. او که لغړی له جـــر او ډ ی نه وړاندې پریوځي، په هغه صورت کې لوبغاړي د لغړې تیره شوې څوکه په ډ ی وهـــي. لوبغـــاړي حق لري چې درې ځله لغړی ووهي او وېې شمیري:

یو لغړی، دوه لغړي، درې لغړي. په ځینو سیمو کې وایي:

کلک، دومبک، سومبک.

کله چې لغړی دډډ په گوزار سره له ځمکې نه پورته شي، لوبغاړی هغه په هوا کې په ډډ باندې وهي او وایي: هیځ!

یعنې دوهلو په صورت کې مخکینې پر لغړې یو یادوه گوزارونه که خطا تللي وي، له شمېر څخه وځي او له سره ددرې لغړیو وهلو حق تر لاسه کوي. دوهلو دغه لړۍ او «هیځ کول» تر هغې پورې دوام مومي چې لغړی په دریوو گوزارونو کې له ځمکې څخه پورته نه شي. بیا نو په دغه وخت کې له هغه ځای څخه چې لغړی پکې پروت دی، ترجر پورې فاصله د ډډ داوږدوالي په مقیاس په اټکلي (تخمیني) توگه یو عدد گڼل کیږي. دغسې دغه ټوله فاصله اندازه او شمېر یې په هماغه ټیم پسې یادداشت نیول کیږي.

دلوبغاړي نوبت په لاندینو حالتونو کې سوځي:

- په هغه صورت کې چې لوبغاړي درې ځله پرله پسې ونه کړای شي چې له جر څخه پورته گوزار شوی لغړی په ډډ باندې ووهي.

- په هغه صورت کې چې له میدان نه راگوزار شوی لغړی دډډ له اوږدوالي څخه په کمه فاصله جرته نږدې ولویږي او یا له ډډ سره ولگیږي.

– په هغه صورت کې چې لغړي قپ شي (دلغړي قپ کول دلغړي دوهلو په وخت کې هم نوبت سوځوي).

دنوبت د سوځيدلو په وخت کې دهماغه ټيم يوبل لوبغاړي نوبت ته رامخکې کيږي، تر څو هغه هم خپل بخت وآزمويي. دټيم ټولو غړو سوځيدلو په صورت کې نوبت حريف ټيم ته رسيږي.

لوبه تر هغه وخت پورې دوام کوي چې يو ټيم دنومروټاکلې شمېرد پورد کړي. په هغه صورت کې دګټونکي ټيم مشر (مير) لغړی دډ ی پر سرږدي او دمقابل ټيم له مير څخه پوښتنه کوي:

– کلي کلي؟

هغه ځواب ورکوي:

– نه کلي!

بيانو هماغه مير لغړی دډ ی په مرسته لږ پورته ګوزاروي او کوښښ کوي چې ورڅخه ځمکې ته ونه لويږي. په ورو ورو يې په ډ ی باندې وهي او هغه ګوزارونه چې لغړی پرې وهي، شميري او وايې چې، مثلاً : دري «کلي» شو.

وروسته له هغې څخه لغړی پر جرړدي، په ډی ېې پورته غورځوي او وهي يې. که چیرې «کلي کلي» له یو ځل څخه زیات وي په هماغه شمېر لغړی پخپل لاس له هغه ځایه چې پکې لويدلی وي، پورته او په ډی يې وهي. لغړی چې هر څومره وړاندې و لاړشي له هماغه ځایه دوړونکي ټیم غړي د بايلونکي ټیم دغړيو پرشاسپريږي او تر جرپورې سورلۍ خوري.

که چېرې شرط «زو» ویل وي، په دري ژبو سيمو کې په لوبه کې دامعمول دي چې یو تن له بايلونکي ټیم څخه لغړی په لاس کې نیسي او په داسې حال کې چې د جر خواته منډه وهي، په یوه ساواهي: «اقه، بقه دیگ شلغم سه بازو ووو» او نور ورسره ځغلي، په هر ځای کې چې سابنده او نفس ټکنی شو، له هماغه ځایه دویم لوبغاړی«زو» واهي او دالړۍ تر پایه دوام کوي.

په هغه صورت کې چې دماتې خوړلي ټیم ټول غړي«زو» ووابي، خو وروستنی تن يې جرته ونه رسيږي له هماغه ځایه بيا«کلي کلي» کیږي او لوبه دوام کوي، که نه غير له دې څخه لوبه پای ته رسيږي.

نتیجه:

دډې او لغړي لوبه ماشومان اونوي ځوانان قوي، حوصله ناک، صبرکوونکي او زغمونکي روزي. په هغوي کې دهمکارۍ او ملګرتیا روحیې ته وده ورکوي او د ملګرتیا او صمیمیت د پیاوړتیا سبب ګرځي.

خوداچې اوږدې مرحلې لري، زیاتره وخت لوبه نیمګړې پاتې کیږي. داخطر هم لري چې کیدای شي د لغړي د نیولو یا قپ کولو په وخت کې دلوبغاړي ماشوم سترګې یا مخ په لغړي تپې شي.

بډۍ یا ګوډۍ الوځول

بډۍ یا ګوډۍ الوځول

بډۍ یا ګوډۍ الوځول له ډېرو په زړه پورې لوبو څخه ده، چې په نورو بیلابیلو نومونو، لکه: کاغذ پران، ګوډی پران او پتنګ بازي په نومونو هم یادیږي. د دې لوبې تاریخي لرغونتیا په هکله ویل کیږي چې له هند څخه افغانستان ته راغلې ده، خو د بادبادک، کاغذباد، بادبرک او باد پرک اصطلاحات چې زموږ په کلاسیکو دري ادبیاتو کې راغلي دي، د بډۍ الوځولو مطلب افاده کوي، نو ځکه پورتنی ګومان کمزوری کوي. ښایی د بډۍ یاګوډۍ الوځولو دغه نوی ډول یا جنګي بډۍ را مبنځ ته کیدل د هند په تقلید شوي وي.

دغه لوبه زموږ په هیواد کې د رواني هجري لمریزې پیړۍ په پینځمه لسیزې کې د یوې رسمي لوبې په توګه د المپیک ریاست په چوکاټ کې راغله او د کابل د کمپنۍ په سیمه (د پغمان دوه لارې) کې به یې رسمي مسابقې ترسره کیدلې.

بډۍ (کاغذ پران) له رنګه، نازک کاغذ او څریو څخه په بیلابېلو بڼواو اندازو جوړیږي، یوه څرۍ د «کمان» په شکل او نوم د بډۍ په پلنوالي (عرض) او بله یې په لوړوالي (ارتفاع) د

«تیر» په نوم نصب کېږي. د لویو بډیو څنډې داخل خواته ماتې (قات) شوې او له منځ څخه یې یو نازک تارهم تیر شوی وي، تر څو چې د بډۍ د مقاومت قدرت زیات او په اسانۍ سره څېرې نه شي. بډۍ یا ګوډۍ الوځونکي او جوړونکي خپل کار په ډېر ذوق او مینه پای ته رسوي او بډۍ له مختلفو رنګه کاغذونو څخه په ښکلو اوهندسي بڼو (شکلونو) جوړوي، اوهغې ته ځلا او ښکلاوربخښي.

ډېره کوچنۍ بډۍ «ماهي ګګ» نومیږي چې د یوې تختې کاغذ له $\frac{1}{8}$ برخې څخه جوړیږي. نور ډولونه یې له روپیه ګي، نیم تخته یي، سه پارچه (تخته یی) پنځه پارچې او اووه پارچې څخه عبارت دي.

د کابل شور بازار پخوا د بډۍ یا ګوډۍ پلورلو لوی مرکز و، چې په دغه ځای کې مشهور بډۍ جوړونکي موجودوو.

د ماشومانو کوچنۍ بډۍ په هر ډول تارسره هوا ته الوځي، خو د لویو بډیو د الوځولو له پاره زیاتره شیشه یی تار کارول کیږي. «شیشه تار» په ځانګړي ډول له ښیښې (چې د ښیښې میده ګی، دوریجو دوړو خمیره، کاهي یاکمان ګری سریښت او رنګ سره ګډیږي) او تار له ګوټ څخه جوړیږي. د ښیښې تار په مخصوصو څرخو، چې د همدې له پاره جوړیږي، او بدل کیږي. د

بډۍ الوځولو په وخت کې یو تن له بډۍ الوځوونکي سره د څرخې د نیولو په کار کې مرسته کوي چې «څرخه نیوونکی» ورته وایي.

د بډۍ په جنګ اچولو له پاره، کله چې د دواړو حریفانو بډۍ هوا ته ښې ډېرې لوړې شوې، هغوی په ډېر ځانګړي مهارت سره خپلې بډۍ په هوا کې سره نږدې کوي او هغوی ته د لوبې په اصطلاح «غوټه» ورکوي، ترڅو د دواړو بډیو تارونه سره تاو او ونښلي. وروسته نو بیا تار ته په حرکت ورکولو او غوټه ورکولو سره دوام ورکوي. په دې لړکې د تار د کلکوالي او نرموالي یا پیړوالي او نري والي له امله د یوې بډۍ تار پرې کېږي (شلېږي) او بډۍ د هغه د خاوند له اختیار څخه وځي. نو بیا د لوبې په اصطلاح وایي: بډۍ آزاده شوه، چې هر چا ونیوله د هغه ده. کله چې واړه ماشومان غواړي د بډۍ الوځولو لوبه وکړي، او بډۍ یې د شمال د نشتوالي لــه املــه هوا ته نه پورته کېږي، په دري ژبــو سیمــو کې مــاشومان پــه پاکه مــعصومانه او له زاریو ډکه لهجه وایي:

«حیدرک جبلانی - شمالاره تورانی»

کله چې هغوی کوم یوه بډۍ هوا ته الوځولې یا پورته کړې وي، نور چې غواړي له هغه سره کینه، حسد او رقابت وکړي، کله چې د هغه له څنګه تیرېږي هغه ته آزار ورکوي او وایي:

«حېدرک خسته - شمالا ره بسته»

بې ځایه به نه وي که هغه کوچنی شعر چې په دري ژبو سیمو کې د بډۍ الوځولو په هکله شته، دلته را نقل کړو:

کاغذ پران

کاغذ پران، کاغذ پران
سوی هوا میشی روان
بچه ها خواهند ترا
هم طفل و هم نوجوان
دېروز شمال و باد شد
کاغذ پران آزاد شد
بچهٔ شوخ افتاد زبام
زنده گیش برباد شد

نتیجه:

سره له دې چې بډۍ ګوډۍ الوځول یوه په زړه پورې لوبه ده، ماشومانو ته ځینې خطرونه هم لري. په دې لوبه کې بې احتیاطي د بام نه د لوېدلو، بریښنا نیولو، دلاس د پنجې او ورغوي د غوڅېدلو (د ښیښه یي تار په وسیله) او برسیره پردې په سرکونو او کوڅو کې بډۍ الوځول ډېرې ناوړه ترافیکي پېښې هم را مینځ ته کوي.

لنګر اچول
او
تارجنګي

لنگرا چول او تارجنگي

دا د ماشومانو له پاره ډېرې په زړه پورې لوبې دي. تار جنگي زیاتره په هغو تارونو کیږي چې ماشومان یې د بډې ګوډۍ الوځولو په موسم کې د بډۍ دالوځولو یا آزادو شویو بډیو څخه ترلاسه کوي. دلته لومړی لنګراچول اوبیا تارجنګی لوبه دریپیژنو:

لنګراچول:

د لنګر اچولو لوبې له پاره یوه ډبره په ښیښه یی تار پورې تړي او د هغې بل سر په خپل لاس کې نیسي. دوه لوبغاړي ماشومان مخامخ دریږي او خپل لنګرونه په جنګ اچوي. کله چې د لنګرونو تارونه یو له بل نه تاوراتا وشي، هر لوبغاړی خپل تار راکاږي، د هر چالنګر چې وشلیده هغه لوبه بایللې ده.

ځینې وختونه دنورو د بډیو درانیو لوله پاره هم له لنګر څخه کار اخلي. د لنګر ډبره په لاس نیول کیږي او د هغې بډۍ د تار دپاسه چې د بام یا کوڅې له سرنه تیر شوی وي، غورځول کیږي، د بډۍ رانیولو له پاره زیاتره له دوه لنګرو څخه کار اخیستل کیږي. دوه لنګره هماغه لنګر دي چې تار یې لنډوي او په دواړو سرونو پورې یې ډبرې تړل شوې وي.

تارجنګې:

کله چې واړه ماشومان د آزادې شوې بډۍ تار ترلاسه کړي، په تارجنګۍ پیل کوي. تارجنګي په دوو طریقو کیږي:

۱- دواړه حریفان د خپلو تارونو دواړه سرونه په دواړو لاسونو نیسي او تارونه په شدت یو له بل سره وهي، پورته، ښکته یې کش کوي. د هر چا تارچې وشلیده (پرې شو) لوبه یې بایللې ده.

۲- لوبغاړي مخامخ یو بل ته کښیني یا ودریږي. یو له هغو څخه خپل تار په دواړو لاسونو کلک نیسي او دویم تن خپل تار د کړۍ په شکل د هغې په تارپورې بندوي، دواړه د آرد کشۍ په شان خپل تا رونه کش کوي. د هر چا تارچې د خپل حریف تار پرې کړي هغه ګټونکی دي.

نتیجه:

د لنګر اچولو او تار جنګۍ لوبې ماشومانو ته په زړه پورې دي، خو کومه د ډادونې وړ ګټه نه لري. دغه لوبې ځینې خطرونه هم لري. مثلاً د لنګر ډبره د ماشومانو او لارویانو د ټپي کیدو او یاد کورونو د ښیښود ماتیدلو سبب ګرځېدای شي. د نورو پر بډۍ باندې د لنګر اچولو په صورت کې جنګ او جنجال هم را مینځــته کیــږي. په تار جنګۍ کې هم امکان لري د هلکانو لاسونه په ښیښه یی تار غوځ او یا ټپي شي.

چیتک

چیتک

دا د نجونو له پاره ډېره په زړه پورې لوبه ده چې زموږ د هیواد په ټولو سیمو کې په ډېر لږ توپیر رواج لري. د دې لوبې دسرته رسولوله پاره یو مستطیل شکل د ځمکې پرمخ رسم کیږي. دغه مستطیل په دې ترتیب پر اتو برخوویشل کیږی چې د لومړیو، دویمو او دریمو خانو پلنوالی (عرض) برابر، څلورمه خانه یې لږه زیاته پلنه وي او له مینځ څخه په دوو برخو ویشل کیږي. پینځمه او شپږمه خانه له لومړۍ نه تر دریمو خانو پورې سره مساوي، اوومه خانه له ټولونه کوچنۍ رسم کیږي او اتمه خانه په پلنوالي کې له څلورمې خانې سره برابره وي. د مستطیل دوه پورتني سرونه په یو لوی قوس سره نښلوي (وصلوي) چې په هغه ځای کې هم یوه نیمه دایروي خانه جوړیږي.

په خانو باندې په دې ترتیب سره نومونه ایښودل کیږی: لومړۍ، دویمه او دریمه خانه، خوراو ورور، دم، قدم، صحرا او آسمان. په ځینو ځایونو کې دا خانې د کوټه، منډو، دوزخ، دمۍ، اګره، سرپټ په نومونو یادیږي.

په هغه صورت کې چې لوبغاړي له دوو تنو څخه زیات وي په دوو ټیمونو ویشل کیږي. د نوبت نیولو له پاره «وچه لمده» اچول

کیږي. لومړنی لوبغاړی خپله «چکله» چې یوه کوچنۍ، گرده اوښویه سیندنۍ ډبره او یا کوډړی وي. په وروښکلوي او لومړۍ خانې ته یې ورغورځوي. په یوه پښه لومړۍ خانې ته ټوپ وهي او دویمه او درېیمه خانه هم په یوه پښه وهي (طي کوي) او بیا په دواړو پښو د خوراو ورورخانو ته ټوپ وهي. په دغو خانو کې یو ځل په ټوب سره راگرځي او په دواړو پښو «دمۍ» خانې ته ځي. په «دمۍ» کې دمه کوي او بیا «قدم» ته ځي. بیا له «سیند» څخه ټوپ وهي، «صحرا» ته ځي او له هغه ځایه بیرته لومړۍ خانې ته راځي. په لومړۍ خانه کې خپله چکله د پښې په څنډه وهي او له خط څخه یې وکاږي. په همدې ترتیب په ټولو خانو کې چکله غورځول کیږي او هماغسې تگ او راتگ تکراریږي.

که چیرې لوبغاړی خپله چکله تر نظر لاندې خانې ته وانه چولی شي، یا پښه پر خط کیږدي، یا چکله د پښې په یو حرکت یا گوزار سره له خط نه بیرون نه کړای شي او یا یې چکله او پښې د سیند خانې ته ورداخلې شي، نوبت یې سوځي.

وروسته له هغې چې چکله تر «آسمان» پورې په ټولو خانو کې په بریالیتوب سره واچول شي او تگ راتگ هم صورت ونیسي، لوبغاړی چکله پر تندي ږدي، خپله شاد چیتک د خانو

خــواته گرځوي او د سر په حرکت سره چکله لومړۍ خانې ته اچوي. په هغه صورت کې چــې چکله لومړۍ خانې ته پرېوځي هغه خانه د هغې کیږي. لوبغاړی د ضرب یا چلیــپا (×) په کارولو سره نوموړې خانه ټاپه یا په نښه کوي.

اوس نو هغه په لومړۍ خانه کې ولاړ دی د دویمې خانې د ټاپه کولو له پاره پورتنۍ ټولې مرحلې تیروي. کله چې ټولې خانې ټاپه شوې او نوبت «آسمان» ته ورسیده، لوبغاړی د لومړۍ خانې له بیرون نه چکله «آسمان» ته گوزاروي. خپل مخ آسمان ته اړوي او په ډیر احتیاط سره پرته له دې چې ځمکې ته وگوري، په لومړۍ خانه کې قدم ږدي او له خپل حریف نه پوښتنه کوي:

- صحیح دي؟

د مثبتو ځوابونو د اوریدلو په صورت کې دویمې، دریمې او ... خانې ته ځي، او هر ځل پوښتنه کوي: صحیح دی؟

په هغه صورت کې چې پښه یې پر خط را نه شي، با سیند ته ونه غورځیږي. حریف ځواب ورکوي هو! هو! هو! او په دې ترتیب له «آسمان» شخه هم بهر کیږي. لوبغاړی یوازې وي او که په ډله ایزه توگه له ټیم سره وي، لوبه گټي.

کـه چيرې د لوبغاړي پښه د خط پر سر راشي او يا چکله په يوه ضـــربه او گـــوزار له «آسمان» څخه بهرو نه لوېږي د لوبغاړي نوبت سوځي.

نتيجه:

چيتک د ساعت تيرۍ تر څنگ د نجونو د پښو د عضلاتو دودې له پاره ډېر ښه ورزش هم دی. دغه لوبه د نجونو ترمينځ د سالم رقابت روحيه پياوړې کوي او د هغوی د کار ځواک او استعداد د لوړتيا سبب گرځي.

شیطان کور

شیطان کور

دا لوبه د هلکانو له پاره ډېره په زړه پورې ده. په دې لوبه کې معمولاً اووه تنه ماشومان برخه اخلي، لومړی په یوه هواره ساحه او یو دایروي خط کې د هر ماشوم په نوم یو کورګی چې لس سانتي متره ژور والی او شعاع لري، کېندل کیږي. د کورونو په مینځ کې یو اضافي کور کیندل کیږي چې هغې ته «د شېطان کور» وایي. یو بل ځای د کورونو څخه وړاندې، د «جَر» په توګه انتخابیږي. «جَر» کوم دېوال یا دوازه هم کېدای شي.

د لوبې د کولو وسیله یو اووه پوښی پنډوس (توپ) یا پلاستیکي او یا له رَخت څخه جوړ شوي توپ وي. د لوبې نوبت په پچه اچولو سره ټاکل کیږي. هغه څوک چې باید لوبه پیل کړي، د لوبې په اصطلاح کې «خر» ورته وایي. په اصطلاح «خر» په یوې ټاکلې فاصلې کې چې په یو افقی خط سره په نښه شوې وي او د غونډۍ یا ډېرۍ په نوم یادیږي، کښېني او توپ د خانو پرخوا رغړوي. د لوبې یو تن ګډون کوونکی د خانو ترڅنګ

ناست او توپ بیرته «خر» ته ورگوز اروي. ځینې نور هلکان د خانو او تپې ترڅنگ ولاړ د لوبې د جریان ننداره کوي.

توپ چې تر رغړولو وروسته د هر چا په خانه کې ولوید، هغه د «خر» خاوند کیږي. هغه راځي او په ډیري خوښۍ سره د «خرد» پرشاسپریږي. توپ بیاهم رغړول کیږي. بیا چې د هر چا په خانه کې ولوېد، هغه د «خرد» خاوند کیږي او لومړنی خاوند وایي:

– راشه، ما خپل «خر» پر تاخرڅ کړ!

بیا د خر له شا څخه ښکته کیږي او «خر» خپل نوي خاوند ته ورسپاري. توپ بیاهم د مخکې په شان رغړول کیږي، که چېرې د «خر» په خانه کې پریوت، ماشومان په خندنۍ بڼه غږ کوي:

– خر پر خپل خاوند!

د خر خاوند د «خر» په ځای کښیني، پخوانی خر چې اوس د «خر خاوند» گرځیدلی دی، د هغه پر اوږوسپریږي.

د توپ رغړول په همدې ترتیب دوام کوي. که توپ بیاهم د

خاوند په خانه کې ولويد ، هغه د «خره» يو غوږ نيسي او په کلکه يې کش کوي. د خاوند خانې ته د توپ په بېا (مکررې) لويدلو سره د «خر» هغه بل غوږ هم نېسي.

که چيرې په دريم او څلورم ځل هم پنډوس د هماغه خاوند په خانه کې پريوځي د «خر» سترګې هم د خاوند په لاسونو پټيږي.

لوبه هغه وخت هيجاني کيږي چې پنډوس د «شيطان» خانې ته ولاړشي. هلکان په وارخطايي سره په يو غږ فرياد کوي: شيطان ، شيطان! او په ډيرې چټکتيا سره د جر خواته منډه اخلي.

په دې وخت کې «خر» هم پاغي کيږي او خاوند له خپلو اوږو څخه لاندې غورځوي. توپ وهي ، پنډوس د شيطان له خانې څخه را اخلي او په هلکانو پسې منډه وهي. هر هغه څوک ، چې جر ته لا نه وي رسېدلي ، په پنډوس ووهي ، هماغه «خر» کيږي. خو په هغه صورت کې چې ټول هلکان جرته ورسيږي ، بې چاره خر بېا هم مجبوريږي چې خپل بېګاري کار له سره پېل کړي او د غسې لوبه دوام ومومي.

نتیجه:

دغه لوبه ماشــومان صبرناک، متحمل او مــوقع پېژندونکي روزي، د دوستۍ او مینې روحـــیه او احساس په هغوی کې پیاوړی کوي او یو گټور ورزش هم شمیرل کیږي.

واوره جنگي

واوره جنګي

واوره جنګي د سړو سيمو د يخنۍ د موسم لوبه ده. کومه ځانګړې قاعده نه لري. دواورې په ورځو کې هلکان کوڅې ته راوځي اوپر دوو ټيمونو ويشل کيږي. دواورې جنګي له پاره د هلکانو ويشل کيدل د نورو ټولو لوبو پرخلاف په موټې څپېړه، الم،دولم، لس، شل، دېرش باندې او... نه کيږي، بلکې د ټيمونو په تشکيل کې ګاونډيتوب، خپلولي او د يوې کوڅې والی ستر نقش لري. د دواړو ټيمونو غړي له يو بل څخه لږه ډېره واټن فاصله نيسي، په ډيرې چالاکۍ سره واوره له ځمکې څخه را پورته کوي، د لاسونو په زور او فشار سره هغه غونډاری او کلکوي او خپل حريفان ور باندې ولي.

ځينې وختونه لوبغاړي د ديوالونو تر شا پټيږي، يا له واورې څخه ځانته سنګر جوړوي. او د هغې تر شا دواورې ډېر غونډاري زېرمه (ذخيره) کوي اوبيا له يوې مخې په حمله پيل کوي. هر ټيم چې د يخنۍ او يا د خپلو حريفانو په مقابل کې د مقاومت ځواک (توان) له لاسه ورکړ او وتښتيد، لوبه يې بايللې ده.

نتېجه:

واورد جنگی د ماشومانو روحیه پیاوړې کوي، دواورې دوریدلو سختي اوېخې ورځې په خوښۍ بدلوي. د ېخنۍ په مقابل کې د ماشومانو مقاومت زیاتوي. خودا چې ځېني وختونه شوخ هلکان دواورو د غونډارو په مېنځ کی ډبرې ېا نور کلک شیان ږدي، کــه د نــورو هلکانو په سر، یا مخ باندې ولگیږي د ټپي کېدو سبب یې گرځي.

تار تار تياره

تار تار تیاره

دغه لوبه چي په ځینو دري ژبو سېموکي رواج لري. زیاتره دنجونو له خوا سرته رسیږي. ماشومان یکي په دایروي بڼه دځمکې پرسر کښیني یوماشوم دپچي په اساس انتخابیږي، هغه یودستمال په لاس کې نیسي اوددایري دماشومانو ترشاگرد چاپېرد گرځي او په لوړ غږ وایي: تارتار تیارد

نورهم وایي:	نی نی نیارد
لومړي تن بیاوایي :	آسمان پرستاره
نوریې په ځواب کي وایي:	دینگک دینگک می باره
لومړي تن پوښتنه کوي :	جادوگردخانه اس ؟
نور ځواب ورکوي:	نی ،نی ،نی !

لومړي تن هماغسي ددایري پر شاوخوا گرځي اوداشعر وایي:

ناخنکم شکسته   جورمیکنم، جورنمیشه

سه دفعه گردش می کنم   دفعه چهارم خوش میکنم

هغه د گرځیدو او (شعر) ویلو په دوران کې دستمال په دایرد کې یوناست ماشوم لوبغاړي باندې اچوي او بیا په ډېرې چټکۍ سره تښتي، هغه څوک چې دستمال وریاندې اچول شوی وي، له خپل ځایه راپورته کیږي، دستمال اخلي او په هماغه لومړني تن

پسې په منډه روانيږي. که چېرې په لومړني تن باندې په دستمال اچولو بريالى شو، لومړنى تن خارجيږي او دويم تن لوبې ته ادامه ورکوي. خو که هغه لومړنى تن د منډې په جريان کې په دې بريالى شي چې د دويم ماشوم پرځاى کښيني، له خارجيدلو څخه خلاصيږي. په هر صورت دويم ماشوم چې دستمال ورباندې اچول شوى وي، مکلف دى چې لوبې ته د دايرې شاوخوا ته په گرځېدلو او «تار تار تياره» په ويلو سره ادامه ورکړي.

هغه لوبغاړي چې خارجيږي يا سوځي، د دايرې په مينځ کې کښيني او د نندارچيانو په توگه د لوبې جريان گوري. لوبه د يو تن له پاتې کيدو څخه پرته د ټولو ماشومانو په خارجيدو پورې دوام کوي. هغه څوک چې په لوبه کې فعاله برخه واخلي او تر پايه پورې خارج نه شي (ونه سوځي) د لوبې قهرمان گڼل کيږي.

نتيجه:

دغه لوبه زياتره نجونو ته په زړه پورې ده. او دا چې زموږ د هيواد په ټولنېزو او چاپيريالي شرايطو کې د نجونو له پاره د ورزش مناسبې لارې چارې نشته، دا لوبه هم يو غنيمت گڼل کيږي. همدارنگه دغه لوبه ماشومان حساس او هوښيار روزي. په هغوى کې د دوستۍ، ملگرتيا، مينې او سالم رقابت روحيه پياوړې کوي.

د ځنګله بلا

د ځنګله بلا

دا یوه په زړه پورې لوبه ده چې دوړو نجونو او هلکانو له خوا سرته رسیږي. دا لوبه د مسابقې بڼه نه لري او نه ګټونکی او بایلونکی لري، یوازې د تفریح او ساعت تیرۍ له پاره کیږي.

د لوبې په پیل کې ماشومان له خپل منځ څخه په خپله خوښه او رضا بې له پچې اچونې څخه درې تنه د مور، ترور او بلا په نومونو انتخابوي. بلا په یوه لږه تیاره ځای لکه د زینې لاندې یا دخونې په کونج کې کښیني په هغه ځای باندې د کندو نوم ږدي. مور او ترور د کالیو پریمنځلو حالت تمثیلوي. نور ماشومان داسې ښيي چې له ښوونځي څخه راغلي دي او ډوډۍ غواړي. مور هغوی ته وایی:

- ډوډۍ په کندو کې ده، ولاړ شئ وايې اخلئ.

کلـه چـې ماشــومان د کنــدو خــواته نږدې ورځي، بلا چې له مخکې نه هلته ناسته وي په عجیبو او غریبو غږونو سره هغوي ډاروي. ماشومان په وارخطایۍ سره مور او ترور ته راځي او وایی چې د کندو تر څنګه په تیاره ځای کې کوم خطرناک شی پټ شوی دی.

مور او ترور له ماشومانو سره یوځای په داسې حال کې چې نرۍ لښتې ته یې اور اچولی او د څراغ په څېر یې په لاس کې نیولې، کندو ته ورننوځي کېږي. هلته هغه لوبغاړی نه چې د بلا رول ترسره کوي پوښتنه کوي:

– څه شی یې، انس یې که جن؟

بلا ځواب ورکوي:

– نه انس یم، نه جن یم، پاک پاکیزه آدمزاد (انسان) یم. تاسې څوک یاست؟ تر دې وروسته بلا د یو یو ماشوم نه د هغه د نوم، استوګنځي او خوراک پوښتنه کوي، د مثال په ډول:

– نوم دې څه دی؟

– احمد!

– د کوم ځای یې؟

– کابل!

– خوراک دې څه دی؟

– د غنمو ډوډۍ!

کله چې ټول ماشومان خپل ځان ورو پېژني، مور له بلا څخه پوښتنه کوي:

– نو ته څوک یې؟

بلا ځواب ورکوي:

-نوم مې د بلا ابي، ځای مې د ځنګل مینځ، او خوراک مې انسانان!

ماشومان د دې ځواب په اوریدلو تښتي او بلا ورپسې منډې وهي. هر څو ماشومان چې د بلا منګولو ته ورشي، یو ګوښه ځای ته راوستل کیږي او تړل کیږي. البته د تړلو له پاره رسۍ یا بل څه نه وي او بلا یوازې د تړلو حالت تمثیلوي، او وایي:

- اوس به لاړه شم چې خس خاشاک راوړم، تاسو پرې پاخه کړم او ومو خورم؟ بلا په خسوخاشاکو پسې ځي، نور ماشومان چې له بلا نه تښتیدلي او پټ شوي وي، غلي غلي راځي، او هغه بندیان له زندان څخه آزادوي او تښتي.

کله چې بلا له خسوخاشاکو څخه را ګرځي،ویني چې ځای شته او جولا نه! په لوړ آواز ژاړي:

- وای، ورې پاتې شوم، ښکار کړي مې رانه وتښتیدل.

په دې ترتیب د لوبې یو دور پای ته رسیږي. که چېرې ماشومان ستړي شوي نه وي، لوبه له سره پیل کوي، او دا ځل د ترور، مور او بلا نقش نورو ماشومانو ته ورکول کیږي.

نتیجه:

دا لوبه په داسې حال کې چې په زړه پورې ساعت تیري ده، ماشومان جدي او حاضر ځوابې روزي. هغه څوک چې د تمثیل د هنر استعداد ولري، هغه را څرګندوي او یایې دغه استعداد ته وده ورکوي.

د میچنغوزې

او

لینډي لوبې

د میچنغوزې او لینډۍ لوبې

میچنغوزه برسیره پردې چې د لوبې یوه وسیله ده، یوه د فاعي آله هم ګڼل کیږي. دا له ډېرې لرغونې زمانې څخه زموږ د خلکو ترمینځ رواج لري او په پخوانیو دري ادبیاتو کې یې د «فلاخن» او «قلاب سنګ» په نومونو یادونه شوې ده.

میچنغوزه له دوو پارچو رسیو څخه چې اوږد والی یې سره برابر او دلاس د نیمې وازې په اندازه مساوي او په مینځ کې یې یوه ټوټه څرمن چې دلاس دورغوي په اندازه وي، ځای په ځای شوې او د میچنغوزې د «پټاقۍ» په نوم یادیږي، جوړیږي. درسۍ په یو سر کې یوه کوچنۍ کړۍ د ښي لاس د مینځنۍ ګوتې دننویستلو له پاره جوړه شوې ده، ترڅو چې د کاڼي وارولو په وخت کې میچنغوزه له لاس څخه ونه وځي. د میچنغوزې په پټاقۍ کې ډبره ږدي، د دواړو رسیو سرونه په لاس کې نیسي، هغه د سرد پاسه ښه تاوه وي، بیا درسۍ یوسر خوشې کوي، ډبره د زور په اندازه په ډېر شدت او چټکتیا سره د هدف او نښې په لورځي. له میچنغوزې څخه شپانه د خپلو رمو د ساتنې له پاره کار اخلي، مګر ځینې وختونه په هغې نښې ویشتل او واوره جنګي هم کیږي.

د لينديۍ لوبه:

لينده له يوه دوه شاخه لرګي څخه چې په هر شاخ يې يو ربړ چې تقريباً ۲۰ سانتي متره اوږدوالی لري، کلک تړل کيږي او د ربړونو په سر پورې يوه ټوټه څرمن چې پټاقۍ ورته وايي، نصب کيږي (تړل کيږي). کله چې په لينديۍ ګوزار کوي په پټاقۍ کې يې يوه غونډارې ډبره کېښودل کيږي. پټاقۍ په کيڼ لاس او د لرګي لاستی (دوه شاخ) په ښي لاس نيول کيږي او ښه را کاږل کيږي. کله چې پټاقۍ خوشې کړای شي غونډاری کاڼی د ربړونو د ارتجاعي قوت په وسيله په چټکۍ سره ډير لرې ځي او پر هدف لګيږي. لينده تر ډېرې اندازې پورې د مرغانو د ښکار وسيله ده او ډېر کمه پيښيږي چې ماشومان پر هغې باندې ښنبه وولي.

نتيجه:

ميچنغوزه د شپنو له ضرورتونو څخه ده. او د هغې لوبه په د ښتو او ميروکې ترسره کيږي. ميچنغوزه ويشتل لاسونه او متې قوي او پياوړي کوي، نو ځکه ګټه لري.

د لنبدې لوبه بيا هغو مره ګټوره نه ده، بلکه له يو ډول بازيګوشۍ څخه شميرل کيږي، ځکه چې له يوې خواد الوتونکو د آزار سبب ګرځي او له بلې خوا د خلکو د تېپي کيدلو او د ښيښو د ماتيدلو خطرونه هم ورسره ملګري دي.

گاډله ځغلول

ګاډله ځغلول

دا یو کسېزه لوبه ده چې ماشومان ورسره مینه لري. ګاډله یوه فلزي یا ربړي کړۍ وي چې د نقلیه وسیلو د زړو ټایرونو له خولې یاد ماشینونو له څرخونو څخه ایستل کېږي. د دې لوبې لوبغاړی ماشوم پر لویو عامو او نریو لارو باندې دغه ګاډلې د لرګي یا سیم په وسیله ګرځوي. ګاډلې ځغلونکی کولی شي چې خپله ګاډله په ډېرې چټکۍ یا ورور ورو وځغلوي. کوچنۍ سیمي ګاډلې ماشومان د یوسیم په وسیله چې سربې د چنګک په څېر کړۍ شوی وي، ځغلوي.

د سیم چنګک برخې د ګاډلې په شاپورې کلک نښتی او د فشار په وسیله مخ په وړاندې ټېله کېږي. د ګاډلې ځغلونکی په ګاډلې پسې شاته ځغلي او کوښښ کوي چې خپله ګاډله له هر ډول موانعو او خنډونوڅخه تېره کړي او له چپه کېدلو او غورځېدلو څخه یې وژغوري.

ځینې وختونه هلکان د ګـاډلې ځـغلولو مسابقې کوي. دغه

مسابقې د گاډلې د چټکې ځغلونې او له سختو موانعو، ډبروله مینځ او پیچومو څخه د تیرولو په برخه کې کوي.

نتیجه:

گاډلې ځغلونه یود ورزش ته ورته لوبه دد چې ماشومان تندرست کوي او هغوی دقیق روزي. هغه چاچې گاډله ځغلونه کړې وي، پر بایسکل سپریدل او د هغه چلول ډېر ژر زده کوي. مگر پر د گنه گونې سړکونو او کوڅو کې د گاډلې ځغلول ناوړه ترافیکي پېښې هم را مینځته کوي.

غوز لوبه

غوز لوبه

غوزلوبه زیاتره دا ختر په ورځو او د نوروزد میلې په ورځو کې کیږي. له دې امله چې غوزان زموږ د هیواد په ډېرو سیمو کې پیدا کیږي، نو ځکه دا لوبه هم ډیره رواج لري.

غوز لوبه په بیلا بیلو طریقو کیږي چې دلته یې ځینې مهم او مشهور ډولونه په لنډه توگه توضیح کوو:

۱- میش:

لوبغاړي یو یو غوز په یو خط تقریباً د یو متر په فاصله یو له بل نه لرې پر ځمکه باندې په قطارږدي. دغو غوزانو ته دلوبې په اصطلاح «میش» وایي. وروسته بیا لوبغاړي د نسبتاً وړاندې فاصلې نه دنوبت په ترتیب سره یو یو بل غوز چې هغه ته دلاس دانه یا «سانقه» وایي، د میشونو خواته رغړوي. د هر چا دلاس دانه چې له نورو څخه نږدې د میش یوې دانې ته واقع شي او یا د میش له کومې دانې سره ولگیږي، لومړی دهغه د کار کولو نوبت کیږي. په همدې ترتیب د میش له دانو څخه د هر لوبغاړي د لاس دانې (سانقې) د فاصلې په پام کې نیولو سره دویم، دریم او ... تن هم معلومیږي.

لومړنی لوبغاړی خپله د لاس دانه (سانقه) د خپل لاس په کینه پنجه کې نیسي، د خپل ښي لاس مینځنۍ ګوته د هغې شاته ږدي او خپلې خواته یې راکش کوي. د مبش او یا د حریفانو دانې چې ورته نږدې وي، هماغه په نښه کوي او ولي یې. که چېرې د هغې په ویشتلو بریالی شو هغه غوز ګټي او که یې ګوزار خطا ولاړ، نوبت دویم لوبغاړي ته رسیږي او د غسې لوبه تر پایه پورې دوام کوي.

۲- کرښۍ، یا په دایره کې غوز لوبه:

تقریباً د یو متر په قطر یوه دایره د ځمکې پر مخ رسم کیږي. دایره له مېنځ څخه د یو خط په وسیله نیمایي کیږي. لوبغاړي خپل یو یو، یا څو څو غوزان پر دې خط باندې قطار ږدي او له هغې تاکل شوې ساحې څخه د لاس پر دانو (سانقو) د دایرې داخل غوزانو باندې ګوزار کوي. هر لوبغاړی چې وکړای شي د خپل ګوزار په وسیله یو یا څو غوزان له دایرې څخه وکاږي، هماغه غوزان ګټي.

۳- لولکان یا وهل:

یو دانه غوز د یو تن په واسطه په یوه نقطه کې اېښودل کیږي او نور په داوطلبانه ډول هغه له یو ټاکلي ځای څخه په غوز باندې

ولي. هر څوک چې د هغې په وېشتلو بریالی شو هماغه غوزګټي. او که نه غبر له دي څخه د نښه ویشتونکي د لاس دانه د اېښودل شوي غوز خاوند ګټي.

نتیجه:

غوز لوبه په زړه پورې ده، او څرنګه چې غوزان د افغانستان له پیداوارو څخه دي او هر څوک يې ترلاسه کولی شي، دغې لوبې خپرېدل او عامیدل له ګټې خالي نه دي.

PROPERTY OF ACKU 8770

د ليکوال لنډ ژوند ليک

خواجه غلام جيلاني شبل د خواجه غلام دستگير زوی، په ۱۳۳۹ هـ ش کال د لوگر ولايت په کلنگار کې زيږيدلی دی، په ۱۳۵۷ هـ ش کال د کابل ښار د استقلال له عالي ليسې څخه فارغ او لوړه زده کړه يې د پوليسو په اکاډيمۍ کې سرته رسولې ده.

په ۱۳٦٤ هـ ش کال کې د عقيدتي او نظرياتي اختلافاتو په اساس د کورنيو چارو وزارت له کدر څخه استعفی، مطبوعاتو ته يې مخه کړه او په باختر اژانس کې يې د کار ترڅنگ د ژورناليزم په څانگه کې داخل خدمت زده کړه پای ته رسولې او د ژورنالستانو ټولي ته ورداخل شوی دی.

د مطبوعاتي کار په جريان کې يې د باختر د اطلاعاتي اژانس د خبريال، د «رنگين کمان» مجلې مسؤل مدير، د «نويد» مجلې مسؤل مدير، د «زن افغان» مياشتنۍ خپرونې ليکوال غړي او د «طلوع سبز» اوونيزې د مسؤل په توگه کار کړی دی.

په مطبوعاتو کې يې تاريخي ليکنې، څېړنيزې او سياسي مقالې، لنډې، کيسې او طنزونه چاپ شوي دي.

«انگشتان فنری الگوی همت» اثريې د ملگرو ملتونو د پرمختيايي پروگرام اړوند د افغاني معيوبينو د هر اړخيز پروگرام د نشراتي ارگان «توان» د دريم دسامبر (۱۹۹۸م) لومړی ادبي جايزه وړې ده.

د اریك د گرځنده کتابتونونو د اداری خپاره شوی کتابونه
کتابخانه های سیار اریك این کتاب ها را منتشر کرده است

١- د افغانستان عمومی جغرافیه
٢- جغرافیای عمومی افغانستان
٣- د افغانستان تاریخی ودانی
٤- بنا های تاریخی افغانستان
٥- د افغانستان محلی خواړه
٦- ورزشهای محلی افغانستان
٧- سپینه کوتره
٨- کمان طلایی
٩- زده کړو چی ورزده کړو
١٠- بیاموزیم تا بیاموزانیم
١١- په افغانستان کی چاپیریال ساتنه
١٢- حفاظت محیط زیست در افغانستان
١٣- په افغانستان کی د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
١٤- تربیه و تهیهء بُزق و باغها در افغانستان
١٥- د تمدن سوغات
١٦- ارمغان تمدن
١٧- زلزله در افغانستان
١٨- په افغانستان کی زلزلی
١٩- معیوبین و جامعه
٢٠- معیوبین او تولنه
٢١- د افغانستان لنډکی تاریخ
٢٢- تاریخ فشردهء افغانستان
٢٣- د چرگانو ساتنه او پالنه
٢٤- مرغداری
٢٥- دنیای کودک
٢٦- د ماشوم نړی
٢٧- نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
٢٨- د افغانستان اقتصادی حالت ته یوه کتنه
٢٩- دشاتو مچیو روزنه
٣٠- زنبورداری
٣١- د افغانستان مشاهیر
٣٢- مشاهیر افغانستان
٣٣- د افغانستان کلک پوستی میوی
٣٤- میوه های سخت پوست افغانستان
٣٥- جغرافیای ولایات افغانستان
٣٦- دافغانستان د ولایتونو جغرافیه
٣٧- تکنالوژی بایوگاز
٣٨- د بایوگاز تکنالوژی
٣٩- پُرخوری یا خود خوری
٤٠- دیر خوراکی

د اریک گرځنده کتابتون
ځواکمن
د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز

د اریك د گرځنده کتابتونونو د خپرونو لړی
پرله پسې نومره ٤٢